# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@afgazad.com     www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


دپيشرو خپرونی
۱۹.۱۱.۰۹

## انتخابات که پر ولسونو د ((نړيوالي ټولنې)) ملندې؟

انتخابات د هرې دموکراتيکي ټولنې د وګړو اساسي حق دی او ښايي ټول دموکراتيک بنسټونه د خلکو په رايه وټاکل شي. خو په يو هيواد کې چې لا يې خلک لومړنی سياسي، اقتصادي او ټولنيزه آزادي نلري او دولتونه يې د بهرنيانو د مالي مرستو او سياسي اغيزو له لارې جوړيږي، آيا انتخابات به وکړای شي واقعاً يو دموکراتيک دولت رامنځته کړي؟ دا هغه پوښتنه ده چې د افغانستان په دوو تيرو انتخاباتي پړاونو کې ځواب موندلی دی.

شاوخوا ځلور کاله وړاندې د لومړي ځل لپاره د افغانستان په تاريخ کې د ولسمشرۍ انتخابات تر سره شول چې د هماغه لومړيو څخه د دې ګونګسې سره مل وو چې ګواکې هر څوک چې «نړيوالـه ټولنـه» وغواړي همغه بـه د واک پر ګدۍ کښينوي. «نړيوالي ټولنې» هم د همدې عمومي ذهنيت او د ټولټاکنو په سيالی کې د بدنامه جنايتکارانو د ګډون په پام کې نيولو سره د حامد کرزي لپاره کار وکړ او بـالاخره نوموړی ظـاهراُ د خلکو پـه رايو سره د واک پر ګدۍ کيناست.

پـه تيرو ځلور کلونـو کـې د افغانستان خلکو نـه د سوکالي او هوسـايني مخ وليد او نـه هـم د امنيت او سـولې. د هيواد د ولسمشرۍ او وروسته بيا د پارلماني ټاکنو پايله يوازې بيوزلي، ناامني، بيکاري، فساد او درغلي وه . په دغه ځلورو کلنـی واکمنۍ کې چې د «انتخـابـاتو» لـه لارې رامنځته شوی وه؛ د هوسـايني پر ځـای څـه بانـدې شل زندانونـه جوړ شول او د بهرنيو سرتيرو شميره له سلو زرو واوښته او دې سرتيرو په کراتو زمونږ پر هيوادوالو بمباري وکړه او داسي جنايتونـه تر سره کړل چې د افغانستان ولس به هيڅکله نه هير کړی او نه به يې وبښي.

د ځلور کلونو په تيريدو سره د زمري په ۲۹ نيټه د ولسمشرۍ ټولټاکنو دويم پړاو تر سره شو. څرنګه چې خلک پوهيدلي وو چې ټاکني په داسي يو هيواد کې چې سياسي او اقتصادي آزادي نلري نشي کولای هغوی تـه هوسـاينه او ښـه برخليک ورپه برخه کړي، نو پـه دې ټـاکنو کـې د ګډونوالو شمير پـه ډېـر سـاري کچـې ټيټوالی ومونـد، سره د دې چې نوماندانو د مليونونو ډالرو په لګولو سره هڅه وکړه چې د خلکو پر ذهنيتونو کار وکړي.

ټاکنې د «نړيوالي ټولنې» د څه باندې ۱۲۰ مليونو ډالرو په لګولو سره د طالبانو د ګواښونو په منځ کې تر سره شوی او حامد کرزی، عبدالله عبدالله، رمضان بشر دوست او اشرف غني احمدزی د ځلورو مهمو کانديدانو په توګه يو پـه بل پسې

زیاتي رایی تر لاسه کړی. د ټاکنو وخت لا پای ته رسیدلی نه و چې په ټاکنو کې د تقلب او درغلی خبرې راپورته شوی او نوماندانو پر یو بل د تقلب تور ولګاوه او دې تور ډیر ژر د ټاکنو د کمیسیون، د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون او بالاخره د یوناما لمن هم د تقلب په رتې «ناپاکه» کړه. دې بهیر یو ځل بیا د خلکو سیاسي پوهه لوړه کړه او هغه شمیر خلکو چې په دې ټاکنو کې ګډون کړی و، پر خپل ساده توب یې افسوس کاوه او په زغرده یې ویل چې ټاکني ماکني په درد نخوري او هر څه چې امریکا، انګلستان او د اروپا اتحادیه وغواړي هماغسې به وشي او ډیر ژر همداسې هم وشو. جان کري، د امریکا سفیر، د انګلستان سفیر او د یوناما مشر په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې د حامد کرزي سره راڅرګند شول او دویم پړاو ته د ټاکنو اعلان خلکو ته ورسول شو.

عبدالله عبدالله چې د حامد کرزی مهم سیال و، د دویم پړاو ټاکنو کې د سیالی څخه تیر شو او د ټاکنو کمیسیون هم په بیړه حامد کرزی د هیواد منتخب ولسمشر اعلان کړ او امریکا، انګلستان، فرانسې، ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو ټولنو حامد کرزی ته د تبریکی تر څنګه شپږ میاشتني ګواښنه هم راوستول او په دې توګه «نړیوالې ټولنې» د دویم ځل لپاره یو «دموکراتیک» بهیر په بریالیتوب سره پای ته ورساوه!!

دې ټول بهیر یوځل بیا خلکو ته وښوده چې په افغانستان کې د پوځي ډرامې تر څنګ سیاسي ډرامه هم روانه ده چې افغاني لوبغاړي د هیواد ملي ګټو ته له پاملرنې پرته د خپلو او «نړیوالې ټولنې» د ګټو لپاره په دې ډرامه کې په ډیر ویاړ سره لوبیږي او د خلکو د رایي په نامه زمونږ هیواد کې د سولي، سوکالي، هوسایني او آزادئ پر ځای؛ بیوزلي، نیستي، بیکاري، اختلاس او فساد واکمنوي. د دې ډرامه ډوله انتخاباتو په تر سره کیدو سره خلک دې پایلي ته رسیدلي دي چې د نیکمرغی، آزادی، هوسایني او سوکاله لاره یوازې هغوی په خپله کولای شي ومومي او تسخیر یې کړي نه ملګري ملتونه، نه یوناما، نه د اروپا پارلمان، نه انګلستان او نه هم امریکا.